جمهوری اسلامی افغـانستان
کمیسیون مستقل انتخـــابات

دافغانستان اسلامی جمهوریت
د ټـــاکنو خپلواک کمیسیون

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Election Commission

---

## د ټاکنیزو حساسو موادو د آرشیف کولو او له منځه وړلو کړنلاره

دغه کړنلاره د د ټاکنو دقانون د ۵۶ مادی د ورکړل شویو واکونو له په پام کی نیولو سره د ټاکنیزو مهمو او حساسو موادو د ارشیف کولو او له منځه وړلو په موخه تدوین شوی دی.

**اصطلاح ګانی**

لومړی ماده:

په دي کړنلاره کي دغه اصطلاح ګاني لاندي مفاهیم افاده کوي:

1) کمیسیون: د ټاکنو خپلواک کمیسیون چی د افغانستان د اساسی قانون د ۱۵۶ مادی پربنسټ جوړ شوی دی.
2) حساس مواد: لاندې مواد په کی شامل دي:
   1. د رایه ورکوونکو د نوم لیکنې کارول شوي او نه کارول شوي کتابونه
   2. د رایواستفاده شوي او نه استفاده شوي پاڼی
   3. د رای ورکوونکو لست
   4. د رایو دپایلو بشپړې شوی او نه استفاده شوې فورمې
   5. د رایو د شمیرلو کارول شوي او نه کارول شوي فورمې
   6. هر ډول سند یا د کتوونکوو، سیاسي ډلو او د کاندیدانو داستازوپه اعتبارلیک پورې اړوندو معلوماتو درلودونکی مواد.
   7. د کاندیدانو په نوماندی پورې اړوند اسناد
   8. ټاپه (مهر) او د رایو ورکولو صندوقونه
   9. د نیوکو او شکایتونو فورمي او دهغوی اړوند اسناد

نور ټول هغه مواد چی د کمیسیون له خوا د حساسو موادو په توګه اعلان شي

**د حساسو موادوآرشیف کول**

دویمه ماده:

1) کمیسیون کولی شي چی د راتلونکی استفادې په منظور ټول حساس مواد او یا یوه برخه یی ارشیف کړي
2) حساس مواد کیدای شي چی د جنسا یا په الکترونیک ډول ارشیف شي.
3) حساس مواد په هغو ځایونو کی ارشیف کیږی چی په عام ډول سره هلته لاس رسی ممکن نه وي او د موادو د معلوماتو محرم والی وساتل شي.
4) حساسو آرشیف شویو موادو ته لاس رسي او د هغو څخه د ګټی اخستلو شرایط ، او د هغو د ساتنی لپاره لازمی او مناسبی لاري چاري په اړونده کړنلاره کې ترتیبیږي.

د ټاکنیزو حساسو موادو د آرشیف کولو او له منځه وړلو کړنلاره

دغه کړنلاره د د ټاکنو دقانون د ۵۶ مادی د ورکړل شویو واکونو له په پام کی نیولو سره د ټاکنیزو مهمو او حساسو موادو د ارشیف کولو او له منځه وړلو په موخه تدوین شوی دی.

## اصطلاح ګانې

لومړی ماده:

په دي کړنلاره کي دغه اصطلاح ګاني لاندي مفاهیم افاده کوي:

1) کمیسیون: د ټاکنو خپلواک کمیسیون چی د افغانستان د اساسی قانون د ۱۵۶ مادی پربنسټ جوړ شوی دی.
2) حساس مواد: لاندي مواد په کی شامل دي:
   1. د رایه ورکوونکو د نوم لیکني کارول شوي او نه کارول شوي کتابونه
   2. د رایواستفاده شوي او نه استفاده شوي پاني
   3. د رای ورکوونکو لست
   4. د رایو دپایلو بشپړي شوی او نه استفاده شوي فورمي
   5. د رایو د شمیرلو کارول شوي او نه کارول شوي فورمي
   6. هر ډول سند یا د کتوونکوو، سیاسي ډلو او د کاندیدانو داستازوپه اعتبارلیک پوري اړوندو معلوماتو درلودونکی مواد.
   7. د کاندیدانو په نوماندی پوري اړوند اسناد
   8. ټاپه (مهر) او د رایو ورکولو صندوقونه
   9. د نیوکو او شکایتونو فورمي او دهغوی اړوند اسناد

نور ټول هغه مواد چی د کمیسیون له خوا د حساسو موادو په توګه اعلان شي

## د حساسو موادوآرشیف کول

دویمه ماده:

1) کمیسیون کولی شي چی د راتلونکی استفادي په منظور ټول حساس مواد او یا یوه برخه یی ارشیف کړي
2) حساس مواد کیدای شي چی د جنسا یا په الکترونیک ډول ارشیف شي.
3) حساس مواد په هغو ځایونو کی ارشیف کیږی چی په عام ډول سره هلته لاس رسی ممکن نه وي او د موادو د معلوماتو محرم والی وساتل شي.
4) حساسو آرشیف شویو موادو ته لاس رسي او د هغو څخه د ګټی اخستلو شرایط ، او د هغو د ساتنی لپاره لازمی او مناسبی لاري چاري په اړونده کړنلاره کی ترتیبیږي.

**د حساسو موادو له منځه وړل**

دريمه ماده:

(1)د ټاکنو له هر پړاو وروسته په مرکز يا ولاياتونوکی ، کميسون هغه حساس مواد چی آرشيف کول يی ضرور نه وي، په ګوته کوی او د دی کړنلاري له مادو سره سم بې له منځه وړي.

(2)د حساسو موادو د له منځه وړلو په پروسه کی د شفافيت (روڼوالي) او د موادو د محرموالي د ساتلو لپاره به د پام وړ تد بيرونه په پام کی ونيول شي. د حساسو موادو ډول ، نيټه اود له منځه وړلو ځای د کميسيون له خوا ټاکل کيږي او عامو خلکو ته هم اعلانيږي.

(3)د موادو د له منځه وړلو څرنګوالی د موادو د محرميت د ساتلو او د له منځه وړنی پروسی د شفافيت په غرض لازم تدبيرونه(لاري چاري) په اړوندي کړنلاره کی ترتيبيږي.

**څارنه (نظارت)، کتنه او د ريوټ برابرول او تصديق**

څلورمه ماده:

(1) د لاندی بنستونو استازي کولی شي چی د حساسو موادو د له منځه وړلو د بهير دڅارني ، کتني يا درپوټ برابرولو په موخه په مخکی ټاکل شوي ځاي کي حاضر شي .

- سياسي ګوندونه
- پر ټاکنوباندې ملي او نړيوال کتوونکي بنستونه
- رسنی (کورنی او نړيوالي)

(2)د له منځه وړلو د پروسي له پای ته رسيدو وروسته ددی کړنلاري سره ضميمه کړي شوی فورمه به بشپړيږي او د هغو ارګانونو د استازو له خوا چی په لومړی ماده کی ذکر شوي تصديق او لاسليک کيږي.

**انفاذ**

پنځمه ماده:

**دغه کړنلاره دتصو يب له نېټي وروسته نافذه او خپريږ ي.**

## د حساسو موادو د له منځه وړلو د تصدیق فورمه

هغه ټاکنیز پړاو چې مواد ورپورې اړوندیږي

ولایت:

د موادو ډول:

| شمیره | مواد | اندازه |
|---|---|---|
| ۱ | | |
| ۲ | | |
| ۳ | | |
| ۴ | | |
| ۵ | | |
| ۶ | | |
| ۷ | | |
| ۸ | | |
| ۹ | | |
| ۱۰ | | |

موقعیت:

نیټه: / /

تصديق:

پدی ډول سره تصدیق کوم چی ټول هغه حساس مواد چی په پورتني لست کی یی یادونه شوي وه زمونږ په وړاندي د پروسی د رونوالي له په پام کي نیولواو په حساسو موادوکی د لیکل شویو معلوماتو د محرمیت دساتلو سره، له منځه یوړل شول.

| شمېره | نوم | دنده او اړوند ارګان | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |

د مسوول شخص تصديق:

زه ( ) چی د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په دارالانشاء کی د ( ) دنده لرم او د حساسو موادو د له منځه وړلو په اړه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د دارالانشاء له لارښوونو سره سم په پورتني لست کی مسوولیت راسپارل شوی وو، تصدیق کوم چی په دی فورمه کی لیکل شوي معلومات سم دي.

نیټه : لاسلیک